APPENDEX
"B"



عبدالله جان مغموم   عبدالغفور خان



د بنو ګورنمنټ انټر میډیټ کالج نوې ودانۍ —

د کال چنده اته

یوه پرچه ۳۷

پنځلس ورځنۍ

خپلواک

جلد ۳ شماره ۲ پېښو

۱۶ جنوری سنه ۱۹۶۱ ء

عبدالغفور خان عبدالله جان م

بالاماڼۍ پېښور ښار

عبدالغفور خان په شاهین پریس پېښور کښې چاپ کړو، او د خپلواک د دفتر بالاماڼۍ

انقلابی کال

د صحافت په هر لحاظ د مطلب تګ د پاره د ... او ماحول
سمون ضروری دے۔ کۀ چرے وخت او ماحول دواړه موافق وی نو
په ژوند کښې ترقی او مخکښ تګ یقینی دے۔ د ان ده خۀ موده اګاهو چې
د صحافت په میدان کښې کومه خاموشی او نا اُمیدی وه، نو د هغې وجه
صرف دا وه چې حالات داسے راپیدا کړی شوی وُو چې نه صحافت او
نۀ ادب سر اوچتولے شو۔ او کۀ په دے دواړو کښې یو هم سر پورته
کړے دے نو د سیاست د اغزنی لښتے نه ئے ځان نۀ دے بچ کړے شو
او دغه وجه ده چې په دغه وخت کښې صحافت او ادب دواړه په
مختلفو لانجو کښې دومره ګیر شوی وُو چې خپله اصلی لار ترینه خطا
وه۔ وجه د انقلاب نه راپه دیخوا چې ملک د سیاسی لانجو نه پاک شو
نو د صحافت او د ادب د بدن نه هم د سیاستدانو ځنځیر اوویسته
او په خپله اصلی میانه کښې د خپل منزل په لور روان شو۔ په
دے تیر یو کال کښې چې په ادبی میدان کښې څومره ترقی شوے ده نو
هغه د ډیرے ستائنے وړ ده۔ په دے تیر یو کال کښې چې د لیکوالو
څومره دادګیرنه شوے ده۔ او د ادب او ثقافت څومره سرپرستی
شوے ده۔ نو هغه د دے خبرے زیرے ورکوی چې ادب او ثقافت به
ډیره ترقی اوکړی۔

د رائټرز کلب قیام۔ د پریس کمیشن فیصله او د سکرالی سره
مراعات داسے خبرے دی چې د نوی دور په ځلنده کارنامو کښې
به شمیرلے شی۔ موږ هیله لرو چې نوے نظام به هم دغه رنګ
د لیکوالو دادګیرنه او د صحافت سرپرستی کوی۔

اداریه

ګیله

دَ یوې مجلې دَ ښه والي یا بدوالي اندازه دَ هغې په مضامینو انحصار لري. که چرې په یو مجله کښې ښه، ښکلي، مقصدي او معلوماتي مضمونونه، مقالې، افسانې او ډرامې شائع کیږي نو هغه مجله به ادبي لحاظ اوچته او معیاري ګڼړلې شي. او که چرې مضمونونه او مقالې وغیره معیاري نه وي، نو دغه مجلې ته معیاري مجله هیڅکله نشي وئیلې کیدې. دَ دې وجهٔ نو په ښکاره ښکاره دا خبره ثابته شوه، چه دَ هرې مجلې دَ معیار دارومدار په لیکوالو دے. که چرې لیکوال دَ مجلې سره دا مرسته اوکړي چه ښه ښه مضامین ورته راولیږي نو هغه به خپل معیار قائم اوساتي.

"خپلواک" ته دَ نورو مشکلاتو څخه یو غټ مشکل دا دے چه تر اوسه پورې ډیرو کمو لیکوالو ورسره دَ لیکونو، او مضمونونو په حقله قلمي مرسته کړې ده. حالانکه مونږ دَ لیکوالو په داړه دَ صحافت میدان ته راوتلي وو او دا مو کامل یقین وو چه پښتانه لیکوال به په دې حقله مونږ سره پوره پوره ملګرتیا کوي. او مونږ به دَ دې جوګه یو چه لوستونکو ته ښه معیاري مضمونونه او مقالې وړاندې کړو. خو افسوس دے، چه مونږ دَ لوستونکو سره کوم لوظ کړے وه، دَ هغه لوظ په پوره کولو کښې مونږ ته مشکلات ترمخه شوي دي. تر اوسه پورې چه کومو لیکوالو مونږ سره مرسته کړې ده، مونږ دَ هغوئ دَ دغې ملګرتیا مننه کوو. خو ورسره به دغو لیکوالو ته دا خواست هم اوکړو چه "خپلواک" پښتلسیزه مجله ده. او دَ یوې پښتلسیزې مجلې دَ پاره په یو یا دوه مضمونونو اکتفا کول نه دي پکار. بلکه تر څو مره پورې چه کیدے شي نو مونږ سره دې دا ملګرتیا جاري ساتي. چه مونږ دَ لوستونکو سره چه دَ ښه او سپیڅلي ادب دَ پیش کولو کوم لوظ کړے دے په هغې کښې پاتې رانشو.

د معاشرے دښمنان

د انقلاب نه پس د ملک نه د ډیرو بدعنوانو خاتمه اوشوه ـ احتیاج داوه چه تکه د سمګلنګ او ذخیره اندوزۍ په رنګ به د ګډوون کونکو مېرته هم اوځی د انقلاب په پوهمبو څو میاشتو کښې چه په خوراک کښې د ګډوون کونکو خلاف کوے سرګرمۍ شروع شوے وے د هغې په برکت د څه مودے د پاره د دے لعنت خاتمه شوے وه خو هرکله چه د مارشل لاء حاکمانو خپله پالیسي څه قدرله نرمه کړه نو د ملک او قوم دے دښمنانو بیا خپلو چارو ته کوتے واچوے او باوجود د لویو لویو جرمانو هم دوی د خپل عمل نه منع نه شول. او د دے نتیجه دا شوه چه نن صبا بیا په شیرونو کښې د ګډوون لعنت ښېر په زورکښې شروع شوے دے. او د دے ثبوت دا دے چه دا دے هغه بله ورځ په کراچۍ کښې د چایو یو بیوپاری په چایو کښې د سوئو په ګډوون نیولے شوے دے. په چایو کښې د سوئو ګډوون د ذاتي فائدے د پاره د نورو انسانانو سره څومره غټ جرم دے. که چرے انصاف ته اوکتے شی نو د چایو د دغے سوداګر سره داسے عمل پکار دے چه د نورو ګډوون کونکو د پاره یو مثال اوګرځی خو افسوس دے چه د دے باوجود به هم دے دومره لوئی مجرم ته صرف د یو څو کالو قید او یو څو روپو جرمانے سزا ورکړے شی ـ داسے آورو چه دغه د ګډوون کیس د مزید تفتیش د پاره انفورسمنټ پولیس ته حواله شوے دے. حیراني په دے ده چه هرکله یو سړے په موقع باندې په جرم کولو اونیوے شو نو د هغه په مقابله د مزید تفتیش څه ضرورت دے ـ داسے سړی له خو بې سیوا باندې داسے عبرتناکه سزا ورکول پکار دی چه د نورو د پاره عبرت شی. مونږ غواړو چه حکومت به تکه د نورو بے شمیره بدعنوانو په رنګ د ګډوون کونکو خلاف هم بېرسمنه اقدام اوکړی. او هغوئ له به د جرمانو په ځائے د کورو سخته سزا ورکړی او په دے رنګ به د ملک نه دا لعنت هم د همیشه د پاره ورک شی.

پښتو لیکوالو ته

د ملک او قام د ترقۍ او نیکمرغۍ دپاره د ژبې ترقي ضروري ده. او د ژبې د شیرازۍ دپاره د علمي او ادبي مجلو وجود لازمي دے کوم قامونه چه د پوهې او پوخ شعور خاوندان دي هغوئ په دے حقیقت پوهه دي او دے دپاره د خپلې ژبې او ادبي او علمي مجلو پالنه خپل فرض ګڼړي. په دے حقله دوئ نه صرف په خلاص مټ مالي امداد ورکوي بلکه کوم ادبي خدمات چه ترسره رسولے شي هغې ته هم تل په ډیره مینه او شوق ملا تړلې ولاړ دي. او د خپلې ژبې مجلو ته علمي او ادبي مضامین. افسانې. ډرامې یا نور ادبي توکي وررسوي.

خپلواک د تیرے میاشتې نه بیا په خپل روښني شکل کښې راووځي. او دا مو اراده ده چه په دے دول ئے جاري اوساتو بلکه خپل پوره وس اوکړو او نوره ترقي هم ورکړو. دے دپاره مونږ ته د ښو ښو او معیاري ادبي. علمي او معلوماتي مضمونونو ډرامو. افسانو. نظمونو. غزلو او هر قسم ادبي شه پارو ضرورت دے. د خدائے تعالیٰ فضل دے د پښتو لیکوال ګڼړ دي. او په دے لحاظ سره نیکمرغي نه دي. هیله لرو چه دوئ به ضرورت پوره کولو دپاره زړ او په پوره اخلاص سره ملا او تړي او په خپلې قلمي مرستے به خپلواک تهٔ دے جوګه کړي چه پښتنو ورونړو ته به د څهٔ ناغې د ښهٔ نه ښهٔ او صحت مند نه صحت مند ادبي او علمي مواد پیش کوي. پښتنو لیکوالو او شاعرانو ته د خواست سره سره مونږ د خپلو هغه لیکوالو ورونړو شکریه هم اداکوو کومو چه د خپلواک په موجوده ګڼړه کښې مونږ سره مرستے کړے ده. یا مونږ سره د ډیرے مودے راسے په مستقل دول قلمي تعاون کوي. اُمید دے چه دغه رونړه به خپل کوششونه نور هم تیز کړي او دغسے به دا هیلهٔ د دے قابله کړي چه د خپلې ژبې صحیح او رښتینې خدمت اوکړي.

اداریه

پړق د دواړو لاسه خېژي

په افغانستان کښې د پاکستان سفیر خان عبدالرحمان خان په نیره
کښې په راولپنډۍ کښې په یو بیان کښې ویلې دي چه پاکستان به د افغانستان سره
دوستانه تعلقاتو قائمولو سلسله کښې خپل کوششونه جاري ساتي. حالانکه
کابل د حکومت د طرف نه د دې کوششونو ځواب څه ښه نه دے. دوئ ا
چه د دواړو ملکونو اوسیدونکي د مذهب - تاریخ - ثقافت او د ژبې په د
کښې تړلي دي. او دا دواړه ملکونه به یوه ورځ د خوږو دوستانو په رنګ
نه خامخا نزدې کیږي. ځکه چه دا موجوده زړهٔ بداوے عارضي دے.

موږ د دې حقیقت نه انکار نه شو کولے چه د قامونو په ژو
ډیر کوز پاس راپیښیږي. د نن دوستان قومونه صباله په خپلو کښې د
کیدے شي. د تعلقاتو دا بدلون د دوؤ مختلفو مذهبونو د قومونو ترم
دي. او افغانستان او پاکستان خو د هغو قومونو ملکونه دي چه دواړه د مذ
رشته کښې بند په بند تړلي دي. نو په دې لحاظ سره د عبدالرحمان خان خبره ارځ
چه دا دواړه ملکونه به یو نه یو ورځ یو بل ته د دوستانو په رنګ کښې نزدې شي.
چه موږ د کابل د برسرِ اقتداره ډلګو دوئ ته ګورو نو هغه ډیره د افسوس
نا اُمیدۍ ده. د افغانستان سره د پاکستان د دوستۍ کوششونه هله کا
شي چه د کابلي حکومت ذمه وارعزي هم په دې حقله هم خپل فرض ادا کړه
څو پورے چه د کابل حکومت د پاکستان د دوستۍ ځواب په دوستۍ ورنکړي تر
د دې دواړو ملکونو ترمینځه د تعلقاتو د خوږیدو څه اعتبار نه شي کید.
چرے د کابل حکومت واکمن لیډ د سوچ نه کار واخلي نو د پاکستان سره
د دوئ د خپلې تباهۍ باعث کیدے شي. او د پاکستان سره دوستي او رد
دوئ د پاره د ترقۍ ډیرے لارے کودرے سمولے شي. خدائے دِ اوکړي چه
حکومت واکمن لیډ د دوراندیشۍ نه کار واخلي او د پاکستان خلاف دسیسې
نه لاس په سر شي.